(c) ketabton.com: The Digital Library



خدائے شته په خپلو کښې څه پس پس کوي
ځانونه غلي کړي چې ما اوويني
څه رازداري خو شته د مور او د لور

زه چې د سیند څپو ته کوږمه نو
راشي په سترګو مې لاسونه کښېږدي
وائي ځه اووایه چې څوک یمه زه

ښه روغ رمټ یم چې یهس یمه زه
کور ته چې راشم نو بې حاله شمه
چا جوړ په ما باندې تاوید کړے دے



دا حقیقت د چا نه پټ خو نه دے
د رنګ سپېړو پسې ړندېږو ځکه
موږ په صحرا کښې او به خوړ کړے دے

موږ به سپوږمۍ ته دوه پطوا ختلي
افسوس خو دا دے چې زموږه د کور
درشل که اوړېږي، دېوال پرېوځي

بنګړي په لپچو کښې په خیال شرنګوه
چې په سینه کښې مې غورځنګ راشي نو
په دریابونو کښې کشتۍ لاهو شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مینوې شړېږي
په هر قدم شوخوي
د عاشقو جړېږي

اور کېږي الغښتي
ستا تصویرونه گورم
خوب رانه تښتي

گور ته دې ژر ځي
ژوندنده د سوال پیاله وه بوه
چرته کېني گرځي



په تال چې خاندي
ځنې زړه ستړې پېغلې
اور ته ورداسکي

څه چې دې بنگل کړم
خدایه شته د هرې سیمې
خاورې به گل کړم

نیت دې خراب دی
کېنې نو هر وکړې
گل د گلاب دی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کلي خلق ځکه راندهٔ خو نهٔ دي
خدائے شته مري ته به دي لاس پرېوځي
چې دَ هتیانو غلا په ټیټه کوي

اووایُ ټول دَ اکیجن کسے دے
ایټکو ته هسې خوشحالېږي ځله
څوک سپوږمۍ نهٔ دي چې تا یادوي

زړهٔ غوځوي دَ اوازونو فرېب
چې مېښانو نه نغمې هېرې شوې
نو په پنجرو کښې ئې مارغان بندي کړل



څو مره سنګینه حادثه ده دَ ژوند
خېټې مو اوخوړې جذبې دَ وفا
یو بل ته اوس دَ مینې خط نهٔ لیکو

دَ خپل بنایُست له زوره نهٔ دي خبر
دراز قامته، جادوګرې پېغلې
ډېر مې کچه کړي چې منتر پخوي

شېرینې تا سره له دغې ویرې
وادهٔ ته غاړه ایښودلے نه شم
زما به تا سره کوږ دن ماته شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژړونو کښې اور دَ مینې بل کړۍ ګټې
بې حسې دومره په ماحول خوره ده
سم پکښې خدائې ګو واوره کېږي سړې

راته ستا یاد داسې سُرور راکوي
لکه دَ ژمي په واورینه شپه کښې
څوک په کمره کښې انګیټۍ بله کړي

پېغلې دَ بنار پارک کښې راټولې وې نن
وېل ئې راغله یوویشتمه صدۍ
ځې چې دَ کور درشلې اوغورځوؤ



شپېلۍ زړۀ دے نرم تۀ وے نۀ دے
نمائشي اوښکې عبث توېوې
کاڼې اوبو کښې وراسته نۀ کېږي کله

شنه چې مې شوندړه شي دَ قام دَ دړو
لکه دَ چړګو دَ بچو بُغرې شي
اونغلې خپلو کښې دړان بېلوي

لږ انتظار دَ محرومۍ ئې اوکړه
ترڅو چې چرګه کوړکه شوې نۀ وي
تو په هګو باندې بچي نۀ کښېني

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه شته هیچا ته ملامته نهٔ یم
لوږو او تندو که وژلم نو هم
څېرته مې لاس چاته نیولے نهٔ دے

اوس به دَ ځان څهٔ صفائي کومه
ځکه بلاخراب سړے شومه زهٔ
شېرینې تا سره مې ښهٔ کړې وو

خدائېګو په خوند پسې دَ ژوند ړاندهٔ شو
اے دَ ځوانۍ دَ تقاضو سپېړلیه
زمونږه کلي ته به راشې که نه



شېرینې دومره نااوزګاره ئې خو
ته چې له ځان سره یوازې شې نو
دا ځواني مرګ درته یادېږي که نه

دَ زوراور اوبهٔ په لوړه خېژي
آ چې بد خویه یادېده کلي کښې
دَ خپو تلي مې هم هغه ښکلوي

رب دې ژوندۍ لره خوږ دوب دې کړمه
زهٔ به چکس کښې خامخا راتلمه
راته چې ملاؤ شته په اوبو کښې وې ته

Scanned by CamScanner

